مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲۲/۱۲/۰۷

هـغـه نـه شـتـه

زړه پـــه څـــه قـــرار کـړم، هـغـه نـه شته
يـــار څـــنـــگـــه اقـــرار کړم، هـغـه نـه شته

وگـــوره تـــرکـــلـــه بـــه کـــړېـــږم زه
فـــکـــر د ښه کار کـــړم، هـغـه نـه شـتـه

لاس پـــښـــې ښـــوروم لـــکـــه ډوب شـــوی
فـــکـــر د فـــرار کـــړم، هـغـه نـه شـتـه

ټـول عـالـم مـې وکـوت، خو پـيـدا نـه شو
کـوم يـو زه خـپـل يـار کـړم، هـغـه نـه شـته

ټـول ځـان مـې ازغـی، ازغـی خـوږېږمه
خلاص چې ځـان لـه خار کړم، هغه نه شته

ټـــول ويـــرونـــه مـا پـسې پـکـې يـــم ډوبـه
ځان څنگ خلاص له مار کړم، هغه نه شته

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ